# د پشه یی ژبې د اجتماعي قاموس دجوړونې په موخه حضوري مجلس :

**نېټه :** 1/ سرطان /۱۴۰۴هش مطابق د ۱۴۴۶/۱۲/۲٦هق وقت : سهارمهال د اتوبجوڅخه تر مازیګره پورې .

**ځای :** کابل ، کمپني ، د پغمان ولسوالۍ ، د تره خېلوسیمه.

**د ګډونوالومېشت ځایونه :** ننګرهار ، کنړ ، نورستان ، لغمان ، کابل ، کاپیسا.

---

د پشه یی اجتماعي قاموس د حضوري مجلس د ګډونوالو مشترکه او متفقه

## مســـــــوده :

### الف : د مجلس موخه:

د پشه‌یي ژبې د لهجوي تنوع، ژبني ثبوت، او ټولنیز ارزښت د خوندي کولو په موخه، موږ هوکړه وکړه چې یو داسې لهجوي قاموس جوړ کړو چې د پشه‌یي ژبې بېلابېلو بڼو ته ځای ورکړي، علمي ارزښت ولري او د راتلونکو نسلونو لپاره د باور وړ سرچینه وي.

### ب : د قاموس اړتیاوې او ګټې :

1. د پشه‌یي ژبې د کلماتو او لهجو تثبیتول او راټولول.
2. د لهجو ترمنځ پرتلنه او توضیح.
3. د ژبپوهانو، مشرانو  نظریات اخستل .
4. د لیکدود، تورو، او تلفظونومعیاري کول .
5. د لغاتو معناوې، بېلګې، او کار ونه  ذکرکول .
6. دپشه یی بومي لغاتونو لټون .
7. دپشه یی قوم ژبني همغږي او اجتماع رامنځته کول .

## ج :   د قاموس جوړونې دمجلس طرحې :

1. د زیاتوتوپیرلرونکو لهجو اود هغوی دهمجوارو سیمو لغاتونه به په قاموس کې لیکل کېږي  .
2. د مجلس لخوا  ټاکل شوی نماینده ګان او د هغوی مرستیالان کولای شي چې د اجتماعي قاموس د مشرتابه سره د غوښتنې په صورت کې د لغاتو لیست شریک کړي نور د سیمې قلموال خلک فقط د نماینده ګانوسره همکاري کولای شي .
3. د لغاتو په جمع کولوکې به پوره له دقت څخه کار اخیستل کېږي ترڅوقاموس په شفافه توګه د تکمیل مراحل طی کړي .
4. د قاموس په چاپ کې هیڅ نوعه بېړه به نه کېږي بلکه د قاموس اړوند د لغاتو جمع کول به ترهغې جریان ولري ترڅو په قاموس کې د ذکر شویو د ټولوپشه یی مېشتو سیمو لهجوی آوازونو لپاره اجتماعی الفباء نه وي جوړشوی کله چې داسې اجتماعي الف باء جوړه شوه ،  او رسماً منظوره شوه بیا دې د قاموس لیکوالان کېني او د هرلغت کره کتنه دې وکړي او بیادې د چاپ تصمیم ونیسي .
5. د الفباء د جوړولو لپاره د افغانستان د علومو اکاډمۍ کې د پشه یي ژبې استاذې دنده لري چې  د ژبپوهني معیارونو مطابق دهرې لهجې هغه صوتونه چې د عربي، فارسي یا پښتو په مروج الفباء کې مناسب حرف ونه لري، اول به هڅه کېږي چې ورته نږدې حرفونه له همدې ژبو غوره شي اوکه نه وي نو حرف دې ورته ایجاد کړي ترڅو پشه یی قوم په راتلونکي کې د مشکلاتوڅخه خلاص شي .

## د :    پایله او تمه:

دا قاموس به د پشه‌یي ژبې لپاره نه یوازې د ژبنې بقا وسیله وي، بلکې د علمي تحقیق،دبومي لغاتو ذخیره ،  ټولنیز هویت، او کلتوري ویاړ یو ارزښتناک بنسټ به هم جوړ کړي.

**والسلام**

**د پشه یی ژبې د اجتماعي قاموس د حضوري مجلس د ګډونوالولخوا**